د نوان شهر (ايبټ آباد) په خدائي خدمتګار کېمپ کښې

# د فخر افغان ورُو مېے تقرير

**پښتون 1940**



ورونړو! تاسو ته به دا خبره معلومه وي چې دا مونږ چې د مختلفو علاقو پښتانۀ دلته راجمع شوي يُو، دا د څۀ غرض او څۀ مطلب دپاره راجمع شوي يُو؟ او دڅۀ مقصد دپاره مونږ تاسو له تکليف درکړے دے او تاسو چې مونږ په دې کېمپ کښې رايوځائے کړي يئ، دا ولې؟ د دې دپاره زۀ دا ضروري ګڼم چې تاسو په دې حقيقت خبردار کړم او تاسو د دې موقعې نه فائدې وچتې کړئ. واورئ دا کېمپ مونږ د دې غرض دپاره لګولے دے چې په دې کېمپ کښې مونږ د خپلې اصلاح او کمزورو لرې کولو کوشش وکړو او د کومې ذمه دارۍ دپاره چې مونږ ملاتړلې ده، د هغې په حقيقت خان خبردار کړو. اول زۀ مناسب ګڼم چې تاسو په دې خبره پوه کړم چې زمونږ دا د خدائي خدمتګارۍ

ورورولې څنګه جوړه شوه؟ ولې جوړه شوه؟ او کله جوړه شوه؟ هسې خو د دې تحريک بنياد په اکتوبر **1929** کښې اېښے شوے وۀ. مګر څۀ وخت چې مونږ په دسمبر **1929** کښې د کانګرېس کاليزې جلسې له لاهور ته لاړو نو هلته مونږ وليدل چې بېشماره ځلمي په خاص تنظيم کښې راغلي وو او د قوم د خدمت دپاره ئې ملا تړلې وه. يواځې ځلمي نۀ، بلکې ډېرې زنانه د عمل مېدان ته را وتې وې. نو مونږ د سرحد پښتانۀ څوک چې دغې جلسې ته تللي وو، د دې نه ډېر زيات متاثر شو او مونږ محسوسه کړه چې د نورو قومونو نارينه خو پرېږده چې زنانۀ

هم د قوم خدمت ته ملا وتړله، منظمې شوې، مګر مونږ پښتانهٔ يُو چې لا هغسې پښه په پښه ناست يُو. تقدير ته مو ځان حواله کړے دے نو ولې دې مونږ هم د خپل قوم تنظيم ونهٔ کړو؟ اخر مونږ هم هلته يو ځائے شو، په دې خبره مو بحث وکړو او فېصله مو وکړه چې مونږ له د خدائي خدمتګارۍ تحريک ته د ترقۍ دپاره ملا تړل پکار دي چې د هغې نه خپل ملک او قوم ته فائده ورسوو. لنډه دا چې څهٔ وخت مونږ واپس شو نو د خدائي خدمتګارۍ د وروروليۍ خورولو کوشش مو شروع کړو. په هره علاقه، هره ضلع کښې مو پښتانهٔ ځلمي رابېدار کړل او پوهه مو کړل چې اخر مونږ هم يو قوم يُو، په مونږ کښې هم ځلمي شته، مونږ ته هم د دنيا د خلقو سره اوږه په اوږه تلل پکار دي، د هغې وخت نه زمونږ د عزيزدارۍ او وروروليۍ دا تحريک شروع شوے دے او د دې تحريک نه چې په ملک کښې څهٔ بېداري پېدا شوې ده او د هغې نه څهٔ لږه ګټه په لاس راغلې ده، هغه ستاسو نه پټه نهٔ ده. د پښتون اصلاح په بله هيڅ طريقه کېدې نهٔ شي. صرف دا يو تحريک دے چې د پښتنو د سياسي، اخلاقي، روحاني ترقۍ سبب کېدے شي. اوس زهٔ تاسو په دې خبره پوهول غواړم چې زمونږ نوم خدائي خدمتګار دے او مونږ ځان ته د خدائے پاک خدمتګار وايُو. څهٔ وخت چې مونږ



په دې کښې داخلېږو د خدائے سره وعده کوو چې مونږ به د خدائے خدمت کوو. لېکن تاسو په دې خبردار شئ چې خدائے ته د خدمت هيڅ ضرورت نشته، د هغهٔ خدمت د هغهٔ د مخلوق خدمت دے. نو هر څوک چې ځان ته خدائي خدمتګار وائي هغه به ځان د خدائے د مخلوق خدمتګار ګڼي، په دې خبره زهٔ هم تاسو پوهول غواړم چې يواځې پښتون يا مسلمان د خدائے مخلوق نهٔ دے، بلکې چې په دنيا کښې تاسو دا څومره قومونه وينئ، دا ټول د خدائے پېداوښت او مخلوق دے او د دې ټولو خدمت چې څومره زمونږ نه کېدے شي په مونږ فرض او لازم دے. زهٔ ستاسو په خدمت کښې عرض کوم چې تاسو خپلې ذمه دارۍ وپېژنئ او د هغې د پوره کولو کوشش وکړئ کهٔ چرې تاسو دا ذمه دارۍ پوره کولې نهٔ شئ او تاسو د خدائے د ټول مخلوق سره محبت او همدردي او د هغوي خدمت کولے نهٔ شئ نو ښه به دا وي چې خپل نوم په دې خدائي فوځ يعني خدائي خدمتګارۍ کښې ونهٔ ليکئ او کهٔ چا ليکلے دے او په دې اصولو چلېدے نهٔ شي نو پکار ده چې هغوي خپل ځان جدا کړي.

ډېر خدائي خدمتګار دي چې هغوي په تحريک کښې شامل خو دي مګر خپل اصول په ښهٔ شان نهٔ پېژني او په يوه معمولي خبره لغزش خوري لکه ماته يوه واقعه ياده ده چې څهٔ موده کېږي زهٔ د

کانګرېس د ورکنګ کمېټۍ په يو اجلاس کښې د شاملېدو دپاره ډيلي ته تللے وم هلته په يوه موقعه يو هندو ؤ چې ماسره په جېلخانه کښې پاتې شوے ؤ هغۀ اوبۀ څښل غوښتل، مګر د اوبو لوښے نۀ ؤ نو ما ورته د خپلې لوټې نه اوبۀ ورکولې، څۀ وخت چې هغۀ اوبو ته لپه نيولې وه او ما اوبۀ وراچولې نو په دغه وخت کښې چرته يو فوټوګرافر زمونږ تصوير واخستو او هغه تصوير "ټربيون" اخبار شائع کړو نو هغه خلقو د چا چې د ملک او قوم سره څۀ همدردي خو نۀ وي ولې کۀ د اعتراض دپاره څۀ موقعه په لاس ورځي نو ايله نۀ کوي، د دې نه يوه لويه قصه جوړه کړه. خدائي خدمتګارو ته به ئې وئيل چې ګوره دا ستاسو د پښتنو مشر دے، چې يو هندو ته اوبۀ ورکوي، د هغوي نه خوځۀ ګيله نۀ ده پکار. مګر عجيبه راته دا ښکاره شوه چې بعضې خدائي خدمتګارانو هم دا خبره محسوسه کړه او زما دا کار ورته ښۀ نۀ ښکارېدو، نو ما ډېر افسوس وکړو چې يو خدائي خدمتګار داسې کار څنګه ښۀ نۀ ګڼي. سره د دې چې هغه وعده کوي چې زۀ به د خدائے د تمام مخلوق خدمت کوم، اوبۀ ورکول خو هډو څۀ خبره نۀ ده. زۀ وايم چې کۀ موقعه پېښه شوه نو د يو محتاج او رنځور بول غائط غورځول هم زمونږ فرض دي. کۀ هغه هندو وي، کۀ سکھ وي او کۀ بل څوک وي، ولې چې ما خو تاسو ته ووې چې خدائي خدمتګار چې د خدائے د مخلوق خدمت شرم ګڼي د خودغرضو خلقو په خبرو پسې ځي هغه خدائي خدمتګار نۀ شي پاتې کېدے، بلکې داسې خلق تمام تحريک ته نقصان رسوي. بس نن هم دغه خبرې دي چې ما تاسو ته وکړې، اميد دے چې سبا به زۀ تاسو ته د خدائي خدمتګارۍ ذمه وارۍ وښيم. اميد دے چې تاسو به په دې خبرو ډېر غور وکړئ.



يوه ضروري خبره- ټولو خدائي خدمتګارانو وروڼو ته به معلومه وي چې د څو ورځو نه د خدائي خدمتګارو او د کانګريس لارې جدا شوې، کانګرېس د يو تازه تجويز په بنا سره د تشدد لار خوښه کړه او زمونږ د خدائي خدمتګارو هم هغه زړه د عدم تشدد لار ده. په دې وجه ما اول د ورکنګ کمېټۍ نه او بيا د آل انډيا کانګرېس کمېټۍ نه استعفي ورکړه. اوس ټول خدائي خدمتګار او د جرګو ممبران دې په دې مسئله ښۀ غور وکړي کۀ د چا د کانګرېس د موجوده پاليسۍ سره اتفاق وي يعنې د تشدد لار ئې خوښه وي او د قوم فائده په دې کښې ګڼي نو بېشکه د کانګريس کار دې کوي او کۀ څوک د دې سره متفق نۀ وي يعنې په عدم تشدد ئې عقيده وي او د قوم فائده په دې کښې ګڼي نو هغه دې صرف خدائي خدمتګار پاتې شي او د کانګرېس د ممبرۍ نه دې استعفي ورکړي.

مګر یاد لرئ چې زمونږ او د کانګرېس مقصد یو دے یعنې د ملک ازادول او د ملک نه غریبي لرې کول.

ستاسو ورور عبدالغفار

(لس ورځنے "پښتون" **11** اګست **1940**، جلد **6**، نمبر **22**)